مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ ۳۰مه | د ۲۰۱۹ د جولای ۲۱مه | دربیم کال | ٤۰۷مه گڼه

# افغان سوله او مهم پړاو؛
## امریکا غواړي د افغانستان له اوږدې جګړې اوږې سپکې کړي



۳

### د ځواکونو ایستل، د امریکا مجبوریت که انتخاب؟
۲ مخ

### افغان سوله او په دوحه کې بین‌الافغاني غونډه
۲ مخ

### چرا به پرخوری احساسی دچار می‌شویم و چطور با آن مقابله کنیم؟
۳ مخ

## وکیلان: په بادغیس کې په دوو هوایي بریدونو کې لس ملکیان وژل شوي دي

په ولسي جرگه کې د بادغیس د خلکو استازو ویلي چې د دغه ولایت په بالامرغاب ولسوالۍ کې د دوو هوایي بریدونو له امله، لس ملکي وګړي وژل شوي او دوه نور یې ټپیان کړي دي. په ولسي جرگه کې د بادغیس د خلکو استازي ضیاالدین اکازي رسنیو ته ویلي، چې وړمه شپه شاوخوا دوې بجې د دغه ولایت د بالامرغاب ولسوالۍ په اکازي سیمه کې د جیټ الوتکې په وسیله برید شوی چې ملکي وګړو ته یې مرګ ژوبله اوښتې ده.

نوموړي زیاته کړې چې په دغه برید کې اووه ملکیان وژل شوي او یو تن ټپي دی.

هغه زیاته کړې چې له یادو اتو کسانو څخه، پنځه کسان د یوې کورنۍ غړي او درې نور د بلې کورنۍ غړي دي.

دغه راز هغه زیاته کړې چې وړمه ورځ مازدیګر شاوخوا ۵:۳۰ بجې د بالامرغاب ولسوالۍ د جوی خواجه په سیمه کې د یوې چورلکې په برید کې د یوې ښځې په ګډون درې ملکي وګړي وژل شوي او یو بل تن ټپي دی.

نوموړي ویلي، نه پوهیږي چې دا هوایي بریدونه د بهرنیو ځواکونو او که د افغان هوایي ځواک له لورې شوي دي. هغه په افغانستان کې له مېشتو بهرنیو ځواکونو او دغه راز له افغان حکومت څخه غوښتي چې په عملیاتو کې دې له پوره غور څخه کار واخلي، څو ولسي خلکو ته زیان وا نه وړي.

بلخوا د بادغیس سیمه ییزو چارواکو په هوایي بریدونو کې د ملکي مرګ ژوبلې په اړه د معلوماتو له ورکولو ډډه کړې ده.

## له طالبانو سره د ځواکونو پر وتلو توافق نه کېږي



۵ مخ

پوهنتون
۴ مخ

## ملالۍ د لوړو زده کړو موسسه

د لوړو زده کړو په دې موسسه کې د تدریس چارې د لږ تر لږه ۵۳ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې له ډلې یې دوې ښځینه استادانې دي.



## په پکتیا کې ۷۵۰۰ کورونو ته وارداتي برېښنا ورکړل شوه



د پکتیا ولایت د مرکز ګردېز ۷۵۰۰ کورونو ته د وارداتي برېښنا د وېش چارې بشپړې او پرون برېښنا ورکړل شوه.

ټاکل شوې وه چې د ګردېز ۱۸۰۰۰ کورونو ته په اتو میاشتو کې برېښنا ووېشل شي، خو په یاده پروژه کې د ځینو ستونزو له امله یې چارې شاوخوا اته میاشتې وځنډېدې.

د اړوندې موضوع په اړه د پکتیا والي شمیم خان کټوازي وویل: «نن(پرون) د ګردېز ښار ۷۵۰۰ کورنۍ له برق نه برخمنې شوې او انشاالله په یو دوو میاشتو کې به همدومره نورې هم له برق نه برخمنې شي او په دویم پړاو کې مو د پنځلس زره نورو کورونو غوښتنه کړې چې برق ورته ووېشل شي».

دغه راز د دغه ولایت اوسېدونکي او ځیني چارواکي وايي، چې مسوول سکتورونه باید په دغه برخه کې له پوره جدیت څخه کار واخلي، څو یې چارې د تېر په څېر بیا ونه ځنډېږي.

## ولسی جرگه: ایجاد وزارت‌های تازه از سوی رئیس‌جمهور غیرقانونی است





رئیس‌جمهور غنی، در هفته‌های اخیر وزارت دولت در امور صلح و وزارت دولت در امور حقوق بشر را ایجاد کرده‌است.

آقای غنی؛ سلام رحیمی رئیس پیشین دفترش را وزیر دولت در امور صلح و سیما سمر رئیس کمیسیون مستقل انتخابات را وزیر دولت در امور حقوق بشر گماشته‌است.

شماری از اعضای ولسی جرگه، ایجاد چنین نهادها را خلاف قانون می‌دانند و می گویند که چگونگی تخصیص بودجهٔ این نهادها نیز با پرسش‌هایی روبه‌رو است.

محمد شریف بلخابی عضو ولس جرگه گفت: «هر اداره‌یی که بدون تصویب و بدون تائید مجلس عمومی شورای ملی ایجاد شود، خلاف قانون اساسی افغانستان است و بودجهٔ آن هم خلاف قانون اساسی افغانستان است».

اکنون حکومت باید برای این دو نهادها تمامی امکانات و تنخواه برای کارمندان این نهادها فراهم بسازد؛ در حالی که این نهادها در بودجه جا ندارند. اما ریاست‌جمهوری، ایجاد این نهادها را نیاز حکومت و بربنیاد قانون می‌داند. صدیق صدیقی سخن‌گوی ریاست‌جمهوری بیان داشت: «آنچه که صورت گرفته تا حال غیرقانونی نیست، در چارچوب صلاحیت‌های اداری و تشکیلاتی خود رئیس‌جمهور افغانستان است».

شمروز خان مسجدی سخن‌گوی وزارت مالیه نیز گفت: «بودجهٔ وزارت دولت در امور صلح، پس از بررسی‌های بودجهٔ وسط سال تقریباً هفت صد میلیون افغانی بوده که از سوی کابینه تائید شد و اکنون به پارلمان می‌رود؛ اما حکم وزارت دولت در امور حقوق بشر تاکنون به وزارت مالیه نرسیده است».

SHIGAL ENGLISH ACADEMY
2019





Easy English Learning
+93 (0) 789 98 9696
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

### د ځواکونو ایستل، د امریکا مجبوریت که انتخاب؟

د طالبانو او امریکایي استازو ترمنځ په شوو خبرو کې له افغانستان څخه د امریکایي او نورو بهرنیو ځواکونو وتل اساسي خبره ده. که څه هم څوک دقیق نه پوهېږي چې په څومره وخت کې د امریکایي ځواکونو پر وتلو موافقه شوې ده، خو ویل کېږي چې د شوې هوکړې له مخې به په ۱۸ میاشتو کې بهرني ځواکونه له افغانستان څخه وځي. امریکا او طالبانو تر اوسه په دې اړه وروستۍ هوکړه او لاسلیک نه دي کړي، خو خلیلزاد په امریکا کې دی او هلته اوس دا په سیاسي کړیو کې یو مهم او اساسي بحث دی.

ځینې سیاستوال، سناتوران او په ځانگړي ډول نظامي جنرالان ټینگار کوي چې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل به خطرناکې پایلې ولري او له همدې امله ټینگار کوي چې باید یوه برخه ځواکونه په افغانستان کې پاتې شي. دوی وایي چې که امریکایي ځواکونه په افغانستان کې پاتې نه شي، نو شایي افغانستان بیا د امریکا له دښمنانو ډک شي او پر امریکا برید وکړي. په امریکا کې دا بحث لا هم شته چې طالب د باور وړ ځواک نه دی او هر وخت له خپلې خبرې گرځېدلی شي. دوی دغه راز وایي چې په سیمه کې د امریکایي گټو لپاره هم اړتیا ده چې امریکا په افغانستان کې خپل ځواکونه پرېږدي.

له بله اړخه د امریکایي ځواکونو وتلو او ساتلو ته د ماتې او بریا له زاویې هم کتل کېږي. امریکایي نظامیان او هغوی چې د امریکا پر نظامي حیثیت ټینگار کوي، له افغانستان څخه د ځواکونو وتل د امریکا یو ډول نظامي ماتې گڼي. دوی استدلال کوي چې د ځواکونو په وتلو سره دا پیغام ورکول کېږي چې امریکایي نظامیان په افغانستان کې مات شول او مجبور شول چې په پای کې پرته له لاسته راوړنې ووځي. له همدې امله دوی دې داسې سیاسي معاملې پلویان دي، چې ورسره سم په افغانستان کې د امریکا ځواکونه پاتې شي.

اوس د امریکا په سیاسي کړیو کې دا بحث گرم دی او تر هغو چې په دې اړه وروستۍ هوکړه کېږي، دا بحث به لا هم روان وي. که امریکا ونه غواړي چې خپل ځواکونه وباسي، بیا د دې مانا دا ده چې دوی سیاسي جوړجاړی نه غواړي، ځکه سیاسي جوړجاړی د ځواکونو له وتلو سره تړلی دی. د وسله والو طالبانو لومړنۍ خبره دا ده چې د سولې لپاره باید بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي. دوی په دې خبره کې جدي دي او اوس یې دا دریځ سیمه ییز او لوی قدرتونه هم خوښوي او ملاتړ یې کوي. همدا چاره امریکا مجبوروي چې دا غوښتنه ومني او د زهرو دا کوټ وڅښي. دا د امریکا لپاره یو مجبوریت دی، نه یو انتخاب.

څه چې زموږ افغانانو لپاره مهم دي، هغه دا دي چې د امریکایي ځواکونو وتل له سولې سره پوره غوټه شي. همدا چې امریکایي ځواکونه وځي، ورسره سمه باید سوله راشي. داسې نه چې امریکایي ځواکونه وځي، خو موږ بلې جگړې ته ځو. یا د امریکایي ځواکونو د وتلو څرنگوالی داسې شي چې موږ له یوې جگړې بلې ته ولاړ شو. له همدې امله امریکایي ځواکونه باید ووځي، خو ورسره باید داسې گامونه واخیستل شي چې سوله تضمین شي.

# افغان سوله او په دوحه کې بین الافغاني غونډه

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

په افغانستان کې د جگړې د پای ته رسولو په موخه د سرطان میاشتې پر ۱٦ مه او ۱۷ مه د طالبانو، افغان حکومتي چارواکو، سیاستوالو او مدني فعالانو ترمنځ دوې ورځنۍ بین الافغاني غونډه تر سره شوه.

له کابله دوحې ته په ورغلي پلاوي کې د ښځو په گډون ۵۳ کسان شامل وو، د طالبانو له اړخه په دغو خبرو کې ۱۷ کسیزې ډلې گډون درلود. دغه غونډه چې د جرمني او قطر هېوادونو په کوربتوب جوړه شوې وه، د دواړو لوریو د هوکړې له مخې گډونوالو پکې په انفرادي توگه برخه واخیستله.

افغان حکومت، طالبانو، امریکا، قطر، جرمني، نړیوالې ټولنې، د ناستې گډونوالو او ډېرو بهرنیو هېوادونو له دې بین الافغاني ناستې څخه تود هرکلی وکړ.

په دغه تحلیل کې موږ هڅه کړې چې د سولې په تړاو د بین الافغاني خبرو مخینه بیان کړو، د دوحې کنفرانس پایلې، غبرگونونه او آیا دا غونډه به د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د مخامخ خبرو اترو لپاره لاره پرانیزي یا نه؟

**د سولې بین‌الافغاني خبرې**

د بین‌الافغاني خبرو له لارې په افغانستان کې د روانې جگړې د پای ته رسېدو په موخه له نږدې یوې لسیزې راهیسې هڅې کېږي چې په نړیوالو کنفرانسونو کې چې په جرمني، ترکیه، ناروې کې تر سره شوې او د پگواش په غونډو کې افغان سیاسیونو له طالبانو سره کتلي چې دا هڅې د ملي یووالي حکومت په راتگ سره لا گړندۍ شوې.

څو میاشتې وړاندې (د ۱۳۹۷هـ ش کال د سلواغې په ۱٦مه او ۱۷ مه) د روسیې په پلازمېنه مسکو کې په لومړي ځل د طالب استازو او افغان سیاستوالو، جهادي رهبرانو او د پخواني ولسمشر حامد کرزي په گډون پخوانیو لوړپوړو حکومتي چارواکو ترمنځ د افغان سولې په تړاو یوه بې‌سارې دوه ورځنۍ ناسته وشوه، چې په پای کې یې د گډونوالو له خوا گډه اعلامیه هم خپره شوه.

د مسکو ناسته که څه هم د ملي یووالي حکومت رد کړه او نه یوازې دا چې کوم حکومتي چارواکي رسماً د حکومت په استازیتوب گډون پکې ونه کړ؛ بلکې د حکومت له توند غبرگون او نیوکو سره هم مخ وه؛ خو بیا هم دغې غونډې په پراخه کچه بین‌الافغاني خبرو اترو ته د زمینې برابرېدلو لپاره هیلې راټوکولې.

د مسکو بین‌الافغاني غونډې د پرېکړې له مخې، د دغې لړۍ دویمه ناسته د قطر په پلازمېنه دوحه کې پلان شوې وه او له همدې کبله بېلابېلو لورو په ځانگړې توگه د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد هڅې پیل کړې، څو په دې غونډه کې د افغان حکومت استازي هم گډون وکړي.

دا چې افغان حکومت په دې غونډه کې د خپلو استازو د گډون پرېکړه وکړه، د دغې لړۍ د بریالیتوب لپاره یو ارزښتناک فرصت برابر شو؛ خو له بده مرغه په دې تړاو بېلابېل خنډونه د دې لامل شول چې دا غونډه ونه شي.

همدارنگه د افغانستان او روسیې د سیاسي اړیکو د سلیزې د نمانځنې په پار د روان لمریز کال د غبرگولي په ۷ مه او ۸ مه د مسکو په کوربه توب غونډه جوړه شوې وه چې پکې د ملا برادر اخوند په مشرۍ طالب چارواکو، جهادي رهبرانو او د پخواني ولسمشر حامد کرزي په گډون پخوانیو لوړپوړو حکومتي چارواکو برخه درلوده، د افغان- مسکو د اړیکو د نمانځنې تر څنگ افغان سیاسیون او طالب چارواکي د افغان کشالې په تړاو د دویم ځل لپاره سره جرگه شول.

د سولې په اړه یې په مهمو موضوعاتو لکه، د دواړو لورو پر اوربند، د ملکي خلکو د ژوندانه په حفاظت، د بندیانو اړوند مسایلو، له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو، د بهرنیو لاسوهنو پر بندولو، د راتلونکي نظام پر څرنگوالي، ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا، د ملي وحدت پر تحکیم، د ښځو پر حقوقو او نورو مسایلو گټور او ژغورونکې بحثونه وکړل.

**په دوحه کې بین الافغاني ناسته**

ټاکل شوې وه د وري په ۳۱ مه او د ثور په اوله د قطر په پلازمېنه دوحه کې د بین‌الافغاني تفاهم یوه مهمه غونډه جوړه شي؛ خو د دغې غونډې د گډونوالو په تړاو شته اختلافات د دې سبب شول چې دا غونډه وځنډېږي.

له اوږده ځنډ وروسته د سرطان په ۱٦ مه او ۱۷ مه د قطر او جرمني په کوربه توب د قطر په پلازمېنه دوحه کې د بین الافغاني تفاهم مهمه غونډه جوړه شوه. په دې غونډه کې طالبانو، افغان حکومتي چارواکو، سیاستوالو او مدني فعالانو برخه درلوده. د دې غونډې نه مخکې د طالبانو او امریکا د اووم پړاو خبرې جریان درلود چې د دې غونډې په پار امریکا او طالبانو خبرې د دوو ورځو لپاره وځنډولې او له دوه ورځنې ځنډ وروسته د امریکا او طالبانو تر منځ خبرې بېرته پیل شوې.

د قطر چارواکو د بین الافغاني ناستې گډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنگ وویل چې دا ناسته په نړیواله کچه څارل کېږي او ډېره تمه ترې کېږي، خو په وینا یې دا ناسته به د دوی له تمې سره سم پایله ولري. دغه راز د افغانستان او پاکستان لپاره د جرمني استازي مارکس پوټزیل هم د بین الافغاني غونډې گډونوالو ته وویل چې دا یو ښه فرصت دی چې تاسو د افغانستان د راتلونکې په هکله خبرې وکړئ.

همدا راز د غونډې گډونوالو د غونډې د پای ته رسېدو سره سم هیله وښوده او زیاته یې کړه چې دا غونډه د تېرو بین الافغاني غونډو چې په مسکو کې جوړې شوې وې، ډېره رغوونکې او په ښه فضا کې تر سره شوه، د افغان کشالې د حل په پار د دواړو لوریو تر منځ رغنده بحثونه وشول چې په ډېرې ټکو د نظر نږدوالی موجود و.

په دې ناسته کې متین بېگ، نادر نادري او شهرزاد اکبر هغه درې کسان وو، چې دا مهال په افغان حکومت کې دندې لري، خو په دې غونډه کې یې د افغان حکومت استازولي نه کوله.

همدا راز د سولې عالي شورا معاون حاجي دین محمد او د دارالانشا معاون او سرپرست انجنیر فرهاد الله فرهاد هم په انفرادي بڼه برخه درلوده.

غونډه له دوو ورځو بحثونو وروسته د سرطان په ۱۷ مه ماسخوتن ناوخته د یوې گډې اعلامیې په خپرولو سره پای ته ورسېده.

**د دوحې د بین الافغاني غونډې په اړه غبرگونونه**

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي، په قطر کې د افغانانو خپلمنځي خبرې د څلوېښت کلنې جگړې او کړاوونو پای ته رسولو لپاره د لا پرمختگ هیلې ښیي.

نوموړي دا څرگندونې په دوحه کې له طالبانو سره د دوه ورځنیو خپلمنځي خبرو تر پای رسېدو او د یوه پرېکړه لیک تر خپرولو وروسته کړې دي. زلمي خلیلزاد په یوه ټوېټ کې ویلي: «اوس نیمه شپه ده او د سولې بین الافغاني کنفرانس په مثبته فضا کې پای ته ورسېد. زه ټولو گډونوالو، د افغاني ټولنې د ټولو نسلونو استازو، لوړ پوړو حکومتي چارواکو او طالبانو ته د گډ تفاهم موندلو مبارکي وایم. زه د قطر او آلمان څخه د دې کنفرانس د تنظیمولو مننه کوم».

افغان حکومت هم په دوحه کې بین الافغاني ناستې د گډې اعلامیې هر کلی وکړ. ولسمشرۍ ماڼۍ وویل، د دې غونډې پایله مثبته وه او تمه ده چې تر سپټمبر میاشتې د حکومت او طالبانو تر منځ هم رسمي خبرې پیل شي.

د قطر بین الافغاني غونډې پایلو ته په کتو، افغان چارواکي تمه لري چې تر یوې نیمې میاشتې د دواړو لورو تر منځ هم رسمي خبرې پیل شي.

د ولسمشر محمد اشرف غني ویاند صدیق صدیقي په یوه خبري کنفرانس کې وویل چې افغان حکومت د سولې د خبرو په اړه په بشپړ ډول په جریان کې دی. د ده په وینا د سولې روانې خبرې او هڅې له بل هر وخته رغوونکې دي.

د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین له بي بي سي سره په خبرو کې وویل چې دا غیر رسمي غونډه وه، ټولو گډونوالو په انفرادي توگه په غونډه کې گډون کړی و. هر یوه په شخصي ډول باندې په افغانستان کې د شته ناورین د ختم او سولې ته د رسېدو په پار خپل نظرونه څرگند کړل او زموږ رسمي موقف په افغانستان کې د جگړې ختم او دایمي سولې ته رسېدل دي.

**پرېکړه‌لیک ته لنډه کتنه**

د دوحې د دوه ورځنۍ ناستې پرېکړه لیک ۹ مادې درلودې چې په دغه پرېکړه لیک کې د خبرو د تداوم پر ضرورت په داسې حال کې ټینگار شوی چې د امریکا او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې دوام لري. دغه راز په دغه پرېکړه لیک کې پر دې هم ټینگار شوی چې په افغانستان کې تلپاتې سراسري او باعزته سولې ته د رسېدو لاره «ټولشموله بین الافغاني مذاکرات» دي.

د دې ترڅنگ په دغه پرېکړه لیک کې یو شمېر مهم ټکي چې په تېرو بین الافغاني مذاکراتو کې ورته کمه توجه شوې وه، هغه په لاندې ډول دي:

**۱- د نرمې ژبې کارول**

که څه هم د دوحې د بین الافغاني خبرو اترو له ناستې وړاندې، د بېلابېلو لوریو او د سولې فعالینو له خوا له افغان طالبانو او افغان حکومت غوښتنه شوې وه چې د یو بل پرضد جنگي پروپاگند بند او پرځای یې د یو بل پر وړاندې نرمه ژبه وکاروي، څو مخامخ خبرو اترو ته زمینه مساعده شي، خو دغه غوښتنې تر ډېره ونه منل شوې.

خو اوسمهال دا لومړی ځل دی، چې افغان طالبانو او افغان سیاستوالو په یوه پرېکړه لیک کې د بین الافغاني خبرو اترو ته د لارې هوارولو په موخه په رسمي بیانونو کې د یو بل پرضد د نرمې ژبې پر استعمالولو ټینگار کړی دی.

**۲- د تاوتریخوالي پر کمولو ټینگار**

په تېرو اتلسو کلونو کې ډېر زیان عام المنفعه بنسټونو او عامو وگړو ته رسېدلی دی. د ملگرو ملتونو د ۲۰۱۷ ز کال راپور له مخې، له ۲۰۰۹ ز کال څخه تر اوسه ۷۰۱۸۸ ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې او دا په دې وروستیو کلونو کې د نورو کلونو په پرتله تر ټولو زیات ارقام دي.

له دې ناستې څخه وړاندې بېلابېلو لوریو لکه، یوناما له دواړو لوریو څو ځله غوښتنه کړې وه چې د جگړې پر مهال د عامو وگړو د سر او مال خوندیتوب ته پاملرنه وکړي، همدارنگه د عامن المنفعه بنسټونو او بندیانو وضعیت ته هم توجه وکړي.

اوسمهال دا لومړی ځل دی چې د افغان سیاسیونو او افغان طالبانو په یوه پرېکړه لیک کې د سپین ږیرو، معیوبینو او ناروغو بندیانو بې قید او شرطه خوشي کول، د عام المنفعه بنسټونو لکه، د دیني او مذهبي مرکزونو، روغتونونو، بازارونو، د اوبو بندونو او کارځایونو د امنیت تضمین، د ملکي خلکو د عزت، ژوند، مال او کورونو ساتنې ته ژمنتیا او ملکي تلفات د صفر کچې ته راښکته کولو باندې توافق او ټینگار شوی دی.

**۳- د دیني او مذهبي اقلیتونو د حقوقو تامین**

په افغانستان کې ځینې اقلیتونه اوسېږي. که څه هم په تېرو حکومتونو کې د دوی حقوقو ته خاصه توجه شوې ده او د ملي یووالي حکومت هم د اقلیتونو حقوقو ته ځانگړې توجه کړې او سېک او هندو اقلیتونو ته یې په پارلمان کې یوه څوکۍ هم ځانگړې کړه؛ خو بیا هم د یادولو وړ ده چې دیني او مذهبي اقلیتونه د روان امنیتي وضعیت څخه اغېزمن شوي دي. د دې ترڅنگ د افغان طالبانو د امارت پر مهال له ځینو دیني اقلیتونو سره مناسب چلند نه و شوی. له همدې ځایه په هېواد کې اقلیتي لړه کې د سولې د روانو خبرو اترو پرمهال له اندېښنو سره مخ دي.

د دې غونډې په پرېکړه لیک کې هم د اقلیتونو دیني او مذهبي حقوقو ته د درناوي او ساتنې یادونه شوې، چې دا بیا د اقلیتونو د حقونو په خوندیتوب کې یو ښه پرمختگ گڼلای شو.

**۴- سولې ته د رسېدو لار (نقشه)**

د ملي یووالي حکومت په لومړیو کې افغان حکومت د سیمې په کچه د افغان سولې په تړاو د اجماع جوړولو له بېلابېلو هڅو وروسته، د «کابل پروسې» تر نوم لاندې نړیوالو کنفرانسونو لړۍ پیل کړه. د افغان حکومت په نوښت او مشرۍ د دغې پیل شوې پروسې مدیریت او د پرېکړو عملي کول د افغان حکومت په لاس کې وو. د دې لړۍ په دویمه غونډه کې افغان ولسمشر اووه ټکي سولې ته د رسېدو په په پار وضع کړل چې لومړی د سیاسي او حقوقي چوکاټ وضع کول، د افغانستان دولت په رسمیت پېژندل، د ټولو اتباعو په تېره د پخلا کېدونکو طالبانو د امنیت تامین لپاره تدابیر نیول، د اقتصاد او ټولنیز پرمختگ لپاره د پروگرامونو پلي کول، د سولې لپاره د نړیوال ملاتړ جلبول او د یوه جامع تطبیقي چوکاټ له لارې ببړنې، لنډمهال، او اوږدمهاله شرایطو اهداف ټاکل او په دې ټولو برخو کې د پرمختگ د څارنې او ارزونې یو مؤثر مېکانېزم رامنځته کول، چې له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو یا سولې ته د رسېدو د لار (نقشې) په توگه یاد کړل.

خو له افغان طالبانو سره د بین الافغاني په خبرو اترو او پرېکړه لیکونو کې تر اوسه سولې ته د رسېدو طرحه نه وه وړاندې شوې، خو اوسمهال دا لومړی ځل دی، چې افغان طالبانو او افغان سیاستوالو په یوه پرېکړه لیک کې سولې ته د رسېدو طرحه وړاندې کړه.

د بین الافغاني خبرو اترو ته د لارې هوارولو په موخه په افغانستان کې پر اسلامي نظام توافق، سراسري سولې ته د رسېدو د پیل په شرایطو او عملي کېدو ټینگار، د سولې تړون د موادو پر پلي کېدو او څارنه، د بنیادي بنسټونو، دفاعي او نورو ملي نهادونو چې د ټولو افغانانو ملکیت دی، د سولې له توافق څخه وروسته په اړینې اصلاح خوندیتوب او غښتلتیا، د افغان کډوالو او د جنگ له کبله د داخلي بېځایه شویو کورنیو خپلو سیمو ته پر بېرته ستنېدو، د مرستندویه هېوادونو سره د سولې د تړون وروسته د مرستو د نوې همکارۍ او اړیکو پر شرایطو، د افغانستان په اړه نړیوال کنفرانس کې د نړیوالو ضمانتونو سره د افغان سولې پر توافقاتو تایید، په نړیوال کنفرانس کې د سیمې، گاونډیو او نورو هېوادونو له لوري په افغانستان کې د نه لاسوهنې ژمنې او توافق باندې ټینگار شوی دی.

همدارنگه څو میاشتې وړاندې (د ۱۳۹۷هـ ش کال د سلواغې په ۱٦مه او ۱۷ مه) چې د روسیې په پلازمېنه مسکو کې په لومړي ځل د افغان سیاسیونو او افغان طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې پیل شوې او په پایله کې یې پرېکړه لیک خپور کړ چې د دغه پرېکړه لیک نه هم بشپړ ملاتړ شوی دی.

ټولو گډونوالو په یوه خوله له اسلامي کنفرانس، د ملگرو ملتونو له سازمان، امنیت شورا، اروپایي ټولنې او ټولو گاونډیو هېوادونو څخه غوښتنه وکړه چې د سولې په اړه د دوحې د بین الافغاني ناستې پرېکړې تایید او ملاتړ یې وکړي.

**پایله**

د دوحې د بین الافغاني خبرو اترو ناسته د افغان طالبانو او امریکا ترمنځ د خبرو اترو د اووم پړاو پرمهال یو ښه پرمختگ و، چې د هېواد دننه او بهر د بېلابېلو لوریو له خوا یې هرکلی وشو او د افغان سولې په تړاو هیلې یو ځل بیا را ژوندۍ کړې. د دې ترڅنگ، د افغان طالبانو، افغان حکومت او نورو هېوادونو غبرگونونو ته په کتلو، هیله شته چې دغه ناسته به هم په راتلونکي کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرو ته لاره پرانیزي.

همدا راز په دې غونډه کې په هغو ټکو چې مخکې به پرې اختلاف نظر و، اوس افغان طالبان او افغان سیاسیون نسبي هوکړې ته رسېدلي دي چې هغه په افغانستان کې د اسلامي ارزښتونو او بشري حقونو پر خوندیتوب، د سولې لپاره د خبرو پر دوام ټینگار، د جگړې پر ښکېلو غاړو د سختې ژبې د نه کارولو غږ، پر ملکي تاسیساتو او ولسي ځایونو د بریدونو نه ترسره کولو او په ټوله کې د تاوتریخوالي د کمولو غوښتنه شوې ده.

# افغان سوله او مهم پړاو؛

## امریکا غواړي د افغانستان له اوږدې جګړې اوږې سپکې کړي



له میاشتو راهیسې د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې روانې دي. خو اوس داسې ویل کېږي چې دغه خبرې مهم پړاو ته رسېدلې دي او امریکا غواړي چې دغه مسئله د تل لپاره حل کړي. د دې تر څنګ چې په هېواد کې له طالبانو سره سولې ته هیلې ډېرې شوې دي، خو لا هم دا شکونه شته چې دغه سوله به جګړه ختمه کړي، ثبات به راولي؟ او که نه په هېواد کې به د نورو ستونزو سبب شي. طالبان وایي چې له امریکا سره تر هوکړې وروسته به له افغان لوري سره خبرې پیل کړي، خو تر هغه چې امریکایي او نور بهرني ځواکونه په افغانستان کې دي، له افغان حکومت سره خبرې نه کوي.

د افغان سولې په اړه تازه نور پرمختګونه هم شوي دي. د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي چې د خپل ماموریت دوام ته یې چمتووالی نیولی دی. له دې چمتووالي یې موخه دا ده چې له طالبانو سره د اووم پړاو خبرې به له ځنډ وروسته بېرته پیلېږي او په دې خبرو کې به مهم پرمختګونه کېږي.

خلیلزاد تر دې وړاندې چین ته سفر کړی و او هلته د چین، پاکستان، امریکا او روسیې له استازو سره یې پر افغان سوه خبرې کړې وې. دوی ټینګار کړی و چې دا لړۍ دې چټکه شي او ژر تر ژره دې بین‌الافغاني خبرو ته زمینه برابره کړل شي.

زلمي خلیلزاد تېره ورځ پر خپله ټوېټرپاڼه لیکلي وو، چې د افغان سولې په اړه یې د جرمني، هند او ازبکستان له استازو سره کتلي دي. له دوی سره یې پر افغان سوله خبرې کړې دي او دوی هم ډاډ ورکړی چې خپلې همکارۍ به نه سپموي.

بل پلو د پاکستان لومړی وزیر عمران خان به راتلونکې دوشنبه په سپینه ماڼۍ کې د امریکا له ولسمشر ډونالډ ټرمپ سره ګوري. د رسنیو د راپورونو له مخې، افغان سوله د دغه لیدنې مهمه اجنډا ده. ویل کېږي چې ټرمپ به له عمران خانه وغواړي چې طالبان له جګړې را وګرځوي او دوی و هڅوي چې بین‌الافغاني خبرې پیل کړي. ټرمپ په دې خبرو کې جدي دی او د امریکایي رسنیو په باور، په پاکستان به دا مني چې نور د طالبانو په ختمولو کې عملي همکاري وکړي. امریکایي رسنۍ وایي، اوس نو پاکستان مجبور دی، هغه طالبان ختم کړي چې کلونه کلونه یې دوی ملاتړ کاوه او پخپله یې روزنه او پالنه کوله.

امریکایي وتلي سناتور لیندسي ګراهام بیا ویلي چې د افغانستان د سولې او له دغه هېواده د سرتېرو د ایستلو په مسئله کې بېړه نه ده پکار. د ده په خبره، په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو حضور ته لا هم اړتیا ده او د ټرمپ بېړه به په افغانستان کې د جګړې او نوي بحران سبب شي. هغه ټینګار کړی چې ټرمپ باید په ۱۸ میاشتو کې د سرتېرو د ایستلو خبره چې طالبان یې کوي، ونه مني او په دې توګه دې افغانان د ترهګرۍ په روانه مبارزه کې یوازې نه پرېږدي.

په ورته وخت کې د برېټانیا مشهورې ورځپاڼې ټایمز بیا په یوه مقاله کې لیکلي چې د افغانستان د سولې خبرې مهم پړاو ته رسېدلې دي، خو اوس د پوره دقت وخت دی. دغه ورځپاڼې په خپله مقاله کې لیکلي، هغه معامله چې د افغانستان په ګټه وي که څومره هم ورته انتظار وشي، نو ښه ده، خو هغه معامله چې د افغانستان په زیان وي چې څومره بېړه ورته کېږي، دومره خطرناکه ده.

د دې تر څنګ ډېری شنونکي او سیاستوال پر دې باور دي چې امریکا غواړي له افغان جګړې اوږې سپکې کړي، نو ځکه د سولې په مسئله کې بېړه لري. ځینې شنونکي بیا وایي چې په دې حساسو شرایطو کې باید افغان حکومت متوجه وي، ځکه پاکستان هڅه کوي ځان امریکا ته نږدې کړي او باید د دې اجازه ور نه کړي چې د طالبانو پر سر د پاکستان او امریکا ترمنځ پټې معاملې رامنځ ته شي.

## د ملکیانو د خوندیتوب ګروپ: په روانه چنګاښ میاشت کې ۶۰۰ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده

د ملکیانو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ګروپ ویلي چې روانه چنګاښ میاشت په ټول هېواد کې له شپږو سوو ډېرو ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

یادې ډلې ویلي، د روان لمریز کال چنګاښ میاشت یوه خونړۍ میاشت وه او په دغه میاشت کې په جګړو، عملیاتو او ځانمرګو بریدون کې ډېرو بې ګناه ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

د دغه ګروپ مشر عزیز احمد تسل ازادي راډیو ته ویلي، که وضعیت همداسې دوام وکړي او د جګړې ښکېلې خواوې پر ملکیانو رحم ونه کړي، ناوړه پایلې به ولري.

هغه زیاته کړې: «په روانه میاشت کې د ملکي تلفاتو کچه ډېره لوړه شوې، له بل هر وخت دغه میاشت خونړۍ وه چې ډېر بې ګناه انسانان پکې ووژل شول، که جګړه همداسې روانه وي او د جګړې دواړه خواوې پر ملکیانو باندې رحم ونه کړي، دا به ناوړه عواقب ولري، موږ دغه پېښې



چې له مخې یې په عملیاتو او یا انتحاري حملو کې خلک وژل کېږي، غندو، شاوخوا ۶۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې چې ۲۰۰ تنه پکې وژل شوي دي».

هغه ویلي چې دغه مرګ ژوبله تر ډېره د وسله والو طالبانو د ځانمرګو بریدونو او د افغان ځواکونو د هوایي او شپنیو عملیاتو له امله رامنځته شوې ده.

دا په داسې حال کې ده چې روانه میاشت وسله والو طالبانو په کابل، کندهار او غزني ولایتونو کې بریدونه وکړل چې تر ډېره پکې ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

دغه راز په دې میاشت کې په بغلان، لوګر، میدان وردګو او ارزګان ولایتونو کې د افغان ځواکونو په هوایي بریدونو کې هم ملکیانو ته تلفات اوښتي دي.

بلخوا دفاع وزارت وایي چې د ملکي تلفاتو د کچې کموالی یې په لومړیتوبونو کې دی او په دې برخه کې جدي دي، خو د ملکي تلفاتو د زیاتوالي د مسوولیت ګوته وسله والو طالبانو ته نیسي.

د دغه وزارت مرستیال ویاند فواد امان ویلي: «په ډېرو کمو مواردو کې د افغان ځواکونو په هوایي او ځمکنیو عملیاتو کې ملکیانو ته تلفات اوښتي، دغې ستونزې ته مو رسیده‌ګي کړې او هڅه کوو چې د افغان ځواکونو په عملیاتو کې د ملکي مرګ ژوبلې کچه صفر ته راښکته کړو، دا د دفاع وزارت په جدي لومړیتوبونو کې ځای لري».

بلخوا وسله والو طالبانو د دفاع وزارت دغه ادعا رد کړې او وایي چې ملکي وګړو ته تر ډېره په هوایي بریدونو او شپنیو عملیاتو کې مرګ ژوبله اوړي.

## لاریون کوونکي: په ولسي جرګه کې د کوچیانو د حوزې وکیل ننګیالي مو ځمکې غصب کړې دي

په غزني کې د خشک، قلعه قاضي، سنجیتک او کلا جوز سیمو لسګونو اوسېدونکو په ولسي جرګه کې د کوچیانو د حوزې وکیل ننګیالي پر ضد لاریون کړی دی.

دوی وایي، د ولسي جرګې د کوچیانو د حوزې وکیل ننګیالي کوچي او د هغه پلار یې شخصي د دوی شخصي ځمکې غصب کړې دي.

لاریون کوونکي تېره ورځ د غازي امان الله خان ځلورلارې ترڅنګ، د اعتراض په توګه راټول شوي وو او د خپلې ځمکې د بېرته تر لاسه کولو غوښتنه یې کوله.

دوی ادعا کوله چې دغه ځمکې د غزني ښار لوېدیځ لوري ته د قلعه قاضي، خشک او د کډوالو ښارګوټي ترڅنګ پرتې دي، چې یادو کسانو غصب کړې او اوسمهال یې د پلور لړۍ روانه ده.

دوی له حکومته غوښتي چې دولت باید ژر تر ژره د ځمکو د پلور مخه ونیسي او دغه راز دې ننګیالي کوچي او د هغه پلار د قانون منګولو



ته وسپاري.

د دغو اعتراض کوونکو له ډلې د حاجي غلام سخي په نوم یوه تن رسنیو ته ویلي: «دا زموږ ځمکې دي، دوه- درې سوه کاله کېږي چې موږ دلته مېشت یو، دوی دا پنځه کاله نه کېږي چې راغلي دي، دلته د درېو- څلورو کلونو ځمکه ده چې دوی غصب کړې او لګیا دي خرڅوي یې».

دغه راز یو بل تن لاریونوال حاجي ظاهر چې ځان د ننګیالي کوچي تره معرفي کوي، خبریالانو ته ویلي، که یې محلي اداري غم ونه خوري، په کابل کې به په اعتراضونو لاس پورې کړي.

بلخوا د ولسي جرګې غړی ننګیالی کوچی د اعتراض کوونکو لاریون د دوی بدنامول او شخصي خبره بولي.

ننګیالي کوچي په دې اړه ازادي راډیو ته ویلي، که دغه خلک اعتراض لري چې دا ځمکې د دوی شخصي ملکیت دی، نو هغوی دې اسناد عدلي او قضایي ارګانونو ته وړاندې کړي، څو ثابته شي چې ځمکې د چا دي.

که څه هم لاریون کوونکو ویلي چې دوی دولت ته مراجعه کړې او غږ یې نه دی اورېدل شوی، خو د ولایت ویاند محمد عارف نوري وایي چې تر اوسه ورسره دغو کسانو هېڅ ډول اړیکه نه ده ټینګه کړې، څو دولت ورسره د ځمکې د غصب په مخنیوي کې مرسته وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د غزني مدني فعالان وایي، په دغه ځای کې ډېری غاصبینو او زورواکو زرګونه جریبه دولتي او شخصي ځمکې غصب کړې دي.

## ټرمپ: متحده ایالتونه حق لري چې په هر ځای کې له خپلو وګړو او ګټو دفاع وکړي




د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ایراني چارواکو وروستیو څرګندونو ته سخت ځواب ورکړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د ایران حکومت د جولای په نولسمه رد کړه چې ګواکې د امریکا جنګي بېړیو په هورمز تنګي کې د دوی بې پیلوټه الوتکه ویشتلې ده.

خو د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ له سپینې ماڼۍ په وینا کې د ایران د رد په اړه وویل: «شک ته ځای نشته، الوتکه موږ وویشته».

ټرمپ ټینګار کړی چې د ایران یوې بې پیلوټه الوتکې د دوی د سمندري ځواکونو د بېړۍ په زر متره ارتفاع کې پرواز کاوه او ګواښ یې پېښ کړی و. بلخوا د امریکا د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار جان بولټن ویلي چې دوی په دې کې هېڅ شک نه لري چې بې پیلوټه الوتکه د ایران وه.

د ایران د بهرنیو چارو وزارت مرستیال عباس عراقچي ورمه ورځ پر خپل ټوېټر ولیکل چې د هورمز په تنګي یا هېڅ بل ځای کې یې بې پیلوټه الوتکه نه ده لوېدلې.

دغه راز د ایران د وسله والو ځواکونو یوه ویاند ویلي چې د هغوی ټولې بې پیلوټه الوتکې خپلو اډو ته رسېدلې دي. خو ولسمشر ټرمپ ویلي چې دوی حق لري چې په هر ځای کې له خپلو وګړو، تاسیساتو او ګټو دفاع وکړي.

ټرمپ پر ټولو هېوادونو غږ کړی چې ایران وغندي؛ ځکه د هغه په خبره، د نړیوال تجارت او د سمندري ټرانسپورټ ازادۍ ته یې ګواښ پېښ کړی دی.

د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف ویلي چې دی د خپلې بې پیلوټه الوتکې د لوېدو په اړه هېڅ معلومات نه لري، خو پر واشنګټن یې تور پورې کړ چې ځان او نوره نړۍ یوه ګړنګ ته ور ټېل وهي.

بلخوا د ایران سپاه‌پاسداران ځواک ویلي چې د برېټانیا یوه ټانکر لېږدوونکې بېړۍ یې د هورمز په تنګي کې نیولې ده.

ایران ادعا کړې چې دغه برېټانوي بېړۍ پر نړیوالو سمندري قوانینو د تېري له امله نیول شوې ده. د سپاه‌پاسداران د عمومي اړیکو له دفتره په خپاره شوي بیان کې ویل شوي چې د برېټانیا د تېلو د ټانکرونو یوه بېړۍ چې (Stena Impero) نومېده، د هورمزګان ولایت د سمندري څارنې د اداري د غوښتنې په اساس، د دې لپاره چې پر نړیوالو سمندري قوانینو یې تېری کړی و، نیول شوې ده.

بلخوا د امریکا سي اېن اېن ټلوېزیون ویلي چې د برېټانیا چارواکي د نورو معلوماتو پر راغونډولو لګیا دي. روېټرز خبري اژانس د چارواکو په حواله لیکلي چې په دې بېړۍ کې ۲۳ کسان سپاره وو.

د تهران له دغه اقدام وروسته برېټانیا خبرداری ورکړی، که ایران مو نیول شوې بېړۍ راخوشې نه کړي، غوڅ ځواب به ورکړو. د زود دویچه الماني ورځپاڼې د خبر له مخې، د برېټانیا د بهرنیو چارو وزیر جرمي هانټ ویلي، دا بېخي په قطعي ډول روښانه ده چې که ایران د دوی بېړۍ خوشې نه کړي، نو له ډېرو بدو عواقبو سره به مخ شي.

## د کتـــاب خبـرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### لومړی څپرکی
### د یوویشتمې پېړۍ پښتانه




په وروستي معاصر تاریخ کې بلوچستان د مساحت له اړخه د پاکستان تر ټولو لوی خو د نورو ولایتونو په پرتله کم نفوسه ولایت دی، د سرچینو له اړخه په دې بډایه ولایت کې بلوڅ بېلتون غوښتونکي له پاکستاني پوځ سره تل په شخړو او جګړو بوخت وي. د پاکستان د پوځ اکثریت سرتېري او مشران پنجابیان دي، ځکه نو بلوڅان نیوکه کوي چې په پاکستان کې د پنجابیانو حکمراني ده. د بلوچستان په شمال کې مېشت پښتانه په عمومي توګه له بلوڅو یاغیانو سره بې توپیره دي. د پښتنو په سیمو کې جمعیت علماء اسلامي ګوند مشهور دی، دا اسلام پال ګوند په پښتنو کې اکثریت پلویان لري او د هند د دېوبند اسلامي مدرسې د نظریاتو پلوی محافظه کار ګوند ګڼل کېږي.

د طالبانو مهم مشران او جنګیالي د بلوچستان د جمعیت علماء اسلام له مدرسو راپورته شوي. وروسته له هغه چې د ۲۰۰۱ز کال په وروستیو کې د طالبانو واکمني ړنګه شوه، هغوی بلوچستان ته مخه کړه، هلته یې د کوټې شورا تر رهبرۍ لاندې چې مشري یې ملا محمدعمر کوله خپلې چارې مخ ته وړلې.

د بلوچستان ولایت پښتون مېشتي ولسوالۍ ۴۰۰۰۰ مربع کیلومتره مساحت لري. دا ولسوالۍ د توبې کاکړ او سلیمان غرونو کې پرتې دي، د دې غرونو لړۍ د هندوکش تر غرونو رسېږي. دا سیمې د افغانستان د کندهار او زابل ولایتونو سیمو ته خورا ورته والی لري. د ګاونډي ولایت خیبر پښتونخوا او فاټا په پرتله په شمالي بلوچستان کې د اسلامي تندلارو په جګړو کې کمې مرګ ژوبلې اوښتې دي.

د شمالي بلوچستان ولایت د ژوب ولسوالي د فاټا له سویلي وزیرستان سره ډېر ورته والی لري. که څه هم دا سیمې له یو بل سره نښتې پرتې دي، خو له یو بل سره د تګ او راتګ پوخ سړک نه لري، د سړک نشتوالي یې د نولسمې پېړۍ د انګرېزانو د سرحد د بېلوالي د پالیسۍ یوه برخه لا په میراث پاتې ده. د دې پالیسۍ له مخې یې ډېری سیمې د برېټانوي هند له اداري رژیمونو سره ونښلولې او وروسته بیا له پاکستاني اداري رژیمونو سره دا سیمې لا هم هغسې محرومې او بې برخلیکه پرتې دي.

فاټا او خیبر پښتونخوا چې په رسمیاتو کې ورته شمال لوېدیځ سرحدي ولایت وایي، ۱۰۰۰۰۰ مربع کیلومتره مساحت لري چې له هنګري او پرتګال څخه لوی او د امریکا له کولوراډو ایالت څخه لږ وړوکی دی. د اباسین په څنډو کې پرتې پښتنې سیمې یوه لور ته اټک بل لور ته د پنجاب تر میانوالي پورې رسېږي. اوبو ته نږدې سیمې د نورو په پرتله ښه حاصل لري. د خیبر پښتونخوا سیمې بېلابېلې ښکلاوې لري. د دې ولایت په شمال کې سوات سیمه له سوېټزرلېنډ سره ورته والی لري، خو په سویل کې د کرک، لکي مروت او اسماعیل خان دېره سیمې بیا ګوبي دښتو ته ورته دي.

پېښور په اقتصادي توګه لوی ارزښت لري. دې سیمې ته د سوات او کابل اوبه راځي، دا ښار ډېرو نورو سیمو ته ډوډۍ ورکوي. په دې سیمه کې ډېر تمباکو کرل کېږي. پېښور د ولایت مرکز دی چې اړوند ښارګوټي یې نوښېرا، سوابي، مردان او چهارصده یادېږي. د سړې سر عوایدو او صنعت له مخې ښایي دا ښار تر ټولو پښتنې سیمو غني وي. د دې دریو درو اړخونو ته غرونه دي، خو ختیځ اړخ ته یې اباسین پروت دی. د ولایت له نورو سیمو د خیبر، ادم خېل دره او له ملکنډ سیمو لارې لري.

د خیبر پښتونخوا له څلورویشت ولسوالیو یوازې دوې ولسوالۍ، دیر او چترال له افغانستان سره نښتې دي. نورې ټولې ولسوالۍ له فاټا سره نښتې پرتې دي. په دې سیمه کې ځینې مشهورې او اړینې لارې دي چې سویلي او مرکزي اسیا سره نښلوي. د دې لارو نومونه په دې توګه دي؛ ګومل او توچي لارې په وزیرستان کې دي، پیور په کورمه، نواګی په باجوړ او ګندهاب په مومند کې موقعیت لري. د خیبر لار مشهوره ده، د تاریخ په اوږدو کې یاده لار د توکو د انتقال او یرغلونو لپاره کارول شوې. فاټا له افغانستان سره ٦۰۰ کیلومتره ګډه پوله لري. د بلوچستان ولایت په څېر دلته فاټا کې هم خلک د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته تګ، راتګ کوي. د فاټا له شمال څخه تر سویل پورې، وزیر، محسود، داوړ، ځاځي، توري، بنګښ، اورکزي، افریدي، شینواري، صافي او مومند قومونه مېشت دي.

فاټا یوه ستونزمنه اداري، سیاسي او اقتصادي جغرافیه ده او په پښتنو سیمو کې ځانګړې ده، خو د خیبر پښتونخوا په څېر له طبعي ښکلا څخه برخمنه سیمه ګڼل کېږي. شنې درې، جګې تپې او ځنګلونه پکې عام دي. د مرکزي وزیرستان ځنګلونه او د تازه اوبو ویالې، پاړاچنار، ونې او په تېره درې څوکو یادو سیمو ته د سیاحانو پام اړولی دی.

د ۲۰۰۱ز کال په وروستیو کې د القاعدې لوړ پوړي مشران په وزیرستان کې مېشت شول. د ۲۰۰۴ز کال له پیله په دې سیمه کې د جګړې لویه بدبختي روانه ده. په لسګونو زره پښتانه د پوځ په نظامي عملیاتو، د افراطیانو په ځانمرګو بریدونو او د امریکا د بې پیلوټه الوتکو په بریدونو کې وژل شوي. په میلیونونو وګړي بې ځایه شوي. په دې سیمو کې د پښتنو د سر خلک او علماء ډېری ترور شول، له همدې کبله، اوس هغوی په سیاسي لحاظ د لارښوونې د سر خلک نه لري. کله چې د القاعده شبکې مهم مشران وژل کېدل او یا به ونیول شول، زور به یې تر عامو خلکو ویست. له یوویشتمې پېړۍ څخه یوه لسیزه وړاندې په دې سیمه کې القاعده او د هغوی افراطي ملګرې ډلې ځای پر ځای شوې چې تر ننه د سیمې او نړۍ امنیت ګواښي.

**دوام لري...**

# ملالی د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي



ملالی د لوړو زده کړو خصوصي موسسې خپل فعالیت د کندهار په عینو مېنه کې د دوو پوهنځیو (معالجوي طب او حقوق او سیاسي علومو) په درلودلو سره په ۱۳۹۰ لمریز کال کې پیل کړی دی. د دې موسسې عمومي رییس پوهنیار عبدالمالک نیازی وایي، له پیله تر اوسه پورې هماغه دوه پوهنځي لري. ښاغلی نیازی وایي، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی یې دوه ډېپارټمنټونه (اداره او ډیپلوماسي، قضا او څارنوالي) لري او طب پوهنځی یې بیا یوازې یو ډېپارټمنټ (معالجوي طب) لري. نوموړی وایي، په طب پوهنځي کې ځینې مرستندوی ډېپارټمنټونه لري، خو هغه چې فارغان ورکوي، یوازې معالجوي طب دی.

د ملالی د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، اوسمهال په فعالو دوو پوهنځیو کې لږ تر لږه ۱۵۰۰ محصلین لري، چې له ډلې یې ۲۵۰ ښځینه محصلینې په طب پوهنځي او ۳۰ نورې بیا په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې زده کړې کوي. ښاغلی نیازی وایي، تر اوسه پورې مو له دواړو پوهنځیو څخه د ۴۰۰ په شاوخوا کې محصلین د لېسانس په کچه فارغ او ټولنې ته مو د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. نوموړی وایي، فارغ شوي ډېری محصلین یې دې دندو ځښتنان دي، چې په خپله په کندهار ولایت او یا د هېواد په نورو ولایتونو کې په دولتي او غیر دولتي ادارو کې کار کوي.

د لوړو زده کړو په دې موسسه کې د تدریس چارې د لږ تر لږه ۵۳ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې له ډلې یې دوې ښځینه استادانې دي. د ملالی د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، استادان یې پر دریو کټګوریو وېشل شوي، چې د دوکتورا، ماسټرۍ او لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. د لوړو زده کړو وزارت د لایحې له مخې، له دې وروسته به هغه کسان په پوهنتون کې د استاد په توګه ګومارل کېږي، چې لږ تر لږه د ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې ولري، خو ښاغلی نیازی وایي، هڅه یې دا ده چې د لېسانس استادانو لپاره ډېر ژر په کور دننه او یا هم بهر کې د ماسټرۍ په پروګرامونو کې ورته د شاملېدو چانس برابر کړي. دی وایي، استادان یې هڅه کوي چې د کار مارکېټ ته په کتو او د لوړو زده کړو وزارت له قوانینو سره په همغږۍ خپل درسي نصاب برابر کړي.

د پوهنیار نیازي په خبره، په کور دننه او بهر کې له ځینو پوهنتونونو او روغتونونو سره علمي اړیکې او هوکړې لري، چې دغه لړۍ ته به ادامه ورکوي. دی وایي، په کور دننه د زون په کچه له دولتي او خصوصي پوهنتونونو او سکټوري ادارو سره علمي اړیکې لري او وخت ناوخت ورسره خپلې تجربې هم شریکوي. نوموړی وایي، ډېر ژر به په کوټه کې له بولان مېډېکل کمپلېکس او په هندوستان کې له یوه روغتون سره هوکړې لاسلیک کړي، چې له مخې به یې د طب پوهنځي محصلین هلته د لا نورو زده کړو، سه تاج او تجربو تر لاسه کولو لپاره ور استوي. ښاغلی نیازی وایي، په دې برخه کې یې یو څه کارونه مخ ته تللي او په لوړو زده کړو وزارت کې تر کار لاندې دي.

ملالی د لوړو زده کړو موسسې ته د ورځې په دوو ټایمونو کې محصلین د زده کړو لپاره ورځي. ښاغلی نیازی وایي، تر ډېره هغه کسان چې د دوی د لوړو زده کړو په موسسه کې محصلین دي، د ورځې په اوږدو کې بېلابېلې دندې هم تر سره کوي، نو همدې ټکي ته په پام یې د هغوی له خوښې سره سم ورته درسي وختونه هم برابر کړي دي. ښاغلی نیازی وایي، د نظري زده کړو تر څنګ یې محصلینو ته د عملي زده کړو زمینه هم برابره کړې ده. نوموړی وایي، د پوهنتون په دننه کې د طب پوهنځي د محصلینو لپاره څلور مجهز لابراتوارونه لري، چې محصلین پکې عملي تجربې تر سره کوي. د دې ترڅنګ، خپله د کندهار ولایت څلورو پر مختللو روغتونونو ته د یوې هوکړې له مخې د طب پوهنځي محصلین ور استوي، چې د عملي کار تر څنګ یې فارغ شوي محصلین د سه تاج دوره هم پکې تېروي. د نیازي په خبره، د حقوقو د محصلینو لپاره هم وخت ناوخت د تمثیلي محکمې او په محکمه کې په عملي ډول د حکمونو پلي کول او لارې چارې محصلینو ته ور زده کوي.

ملالی د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو او استادانو لپاره مجهز کتابتون لري، چې لږ تر لږه ۱۳ زره ټوکه کتابونه پکې موجود دي. د دې موسسې رییس وایي، محصلین او استادان یې کولی شي وخت ناوخت له دې کتابتون څخه ګټه واخلي، مطالعه او څېړنه پکې وکړي. ترڅنګ یې د نړۍ له دوو مشهورو وېبپاڼو سره هم هوکړه لري، چې په زیاته کچه علمي کتابونه پکې په سافټ ډول موجود دي او محصلین یې کولی شي په انلاین بڼه له دغو کتابونو څخه ګټه واخلي. پوهنیار نیازی وایي، د محصلینو د بېلابېلو کټګوریو لپاره تخفیف هم لري، چې ممتازو او بېوزله محصلینو ته پکې لومړیتوب ورکول کېږي.

د ملالی د لوړو زده کړو موسسې اداره وایي، کله چې محصل فارغ شي، مونوګراف یې دفاع کړي، د نمرو جدول او نور تحصیلي اسناد یې د تایید لپاره ډېر ژر لوړو زده کړو وزارت ته د دوی خپل استازی وړي او د لوړو زده کړو په وزارت کې تر تایید وروسته یې د محصل په واک کې ورکوي، څو محصل ترې د دندې پیدا کولو او نورو برخو کې چې قانوني حق یې بلل کېږي، ګټه واخلي. دی وایي، دا چې د پوهنتونونو شمېر یو څه زیات دی، نو طبعاً به د تحصیلي اسنادونو تاید او ارزونه په لوړو زده کړو وزارت کې یو څه وخت نیسي، چې دغه پروسه ټوله خپله د پوهنتون استازی مخ ته وړي او محصل ته د لوړو زده کړو وزارت لخوا تایید شوي اسنادونه سپاري.

د دې موسسې رییس د دولتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ د توپیر په اړه وایي، کېدای شي ډېر خلک په دې اند وي چې دولتي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې تر خصوصي هغو ښې دي، خو ښاغلی نیازی وایي چې که د لوړو زده کړو وزارت لخوا له خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو له موسسې سره چلند ته وګورو، بیا نو دا خبره سمه ده چې ګواکې دولتي او خصوصي پوهنتونونه سره برابر نه دي، ځکه لوړو زده کړو وزارت هغه امتیازونه او حقوق چې دولتي پوهنتونونو ته یې ورکوي، خصوصي هغو ته یې نه ورکوي. د استادانو لپاره علمي رتبې، د ظرفیت لوړولو په کورسونو کې ګډون، د تجربو او وړتیاوو زیاتولو لپاره بهر ته د استادانو او محصلینو لېږل هغه څه دي چې خصوصي پوهنتونونه ترې بې برخې دي، خو که خبره د کیفیت او امکاناتو شي، نو بیا خصوصي پوهنتونونه تر دولتي هغو ښه دي، ځکه دا خصوصي کاروبار دی، نو د دې لپاره چې په مارکېټ کې له ښه نوم څخه برخمن شي، ټول هغه قوانین او مقررات په پام کې نیسي او عملي کوي یې چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا ورته ټاکل شوي وي. بل دا چې دغه پوهنتونونه د پیسو په بدل کې محصلینو ته زده کړې ورکوي، نو خپله محصل هم هڅه کوي چې خپل حق وغواړي.

د دې موسسې مشرتابه وایي، تر اوسه پورې په یوه کرایي ودانۍ کې خپلې چارې مخ ته وړي، خو د کندهار په عینو مېنه کې یې دېرش جریبه ځمکه د پوهنتون لپاره پېرلې، چې د پوهنتون د ودانۍ او نورو ملحقاتو تر څنګ به د طب پوهنځي لپاره یو کادري روغتون هم پکې جوړ کړي. ښاغلی نیازی وایي، هڅه یې دا ده چې ډېر ژر د اقتصاد او یو بل داسې پوهنځی د پوهنتون په چوکاټ کې ور زیات کړي، چې په ټولنه کې ورته اړتیا لیدل کېږي.

د ملالی د لوړو زده کړو موسسې مشرتابه وایي، لوړو زده کړو وزارت باید خصوصي پوهنتونونو او موسسو ته لاس ورکړي، څو دغه بنسټونه پر پښو ودرېږي. دوی وایي، هغه بورسونه چې د محصلینو یا استادانو لپاره له بهرنیو پوهنتونونو او هېوادونو څخه راځي، په هغه کې یوازې د دولتي پوهنتونونو استادانو او محصلینو ته ونډه ورکول کېږي، په داسې حال کې چې په خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو په موسسو کې هم ډېر داسې استادان او محصلین شته چې د دغو بورسونو مستحق دي او وړتیا یې لري. له دې سره په څنګ کې، د دې موسسې اداره له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، څو هغه استادان چې له دوی سره پر تدریس بوخت دي، باید د دولتي پوهنتونونو د استادانو په څېر د علمي رتبو په بهیر کې شامل شي، څو دوی هم وکولی شي چې د هېواد بچیانو ته د خدمت ترڅنګ، په معنوي ډول پرمختګ وکړي او علمي رتبې تر لاسه کړي. ښاغلی نیازی وایي، لوړو زده کړو وزارت ته پکار ده چې د خصوصي پوهنتونونو استادانو ته هم په کور دننه او بهر کې د هغوی د علمي سویې د لوړولو لپاره په هغو پروګرامونو کې چې دایرېږي، ونډه ورکړي.

روغتیا

# چرا به پرخوری احساسی دچار می‌شویم و چطور با آن مقابله کنیم؟

ترجمه: احمد فردوسی

بسیاری از ما هنگام خشم، تنهایی، اضطراب و حتی زمانی که خیلی ناراحت و افسرده شده‌ایم، دوست داریم غذا بخوریم. این احساس ممکن است برای اغلب ما به وجود بیاید و آن‌قدر قدرتمند باشد که نتوانیم خودمان را در مقابل خوردن کنترل کنیم. اما چرا به پرخوری عصبی و احساسی دچار می‌شویم؟ چطور می‌توانیم با پرخوری احساسی مقابله کنیم؟

احساسات ما نقش مهمی در زندگی‌مان دارند. یکی از تأثیرگذارترین احساسات در زندگی هر فرد، احساس گرسنگی و نیاز به خوردن غذاست. در برخی افراد، این احساس نیاز آن‌قدر شدید و فراوان است که باعث می‌شود به پرخوری مبتلا شوند. منشأ احساس نیاز ما برای خوردن، سیستم عصبی سمپاتیک مان است. این سیستم عصبی نقش مهمی در تولید احساس نیاز برای پرخوری کردن دارد؛ یعنی وقتی حتی کاملاً سیر هستیم و معده مان از غذاهایی که خورده‌ایم لبریز شده است، باز هم دوست داریم غذا بخوریم و احساس می‌کنیم به بلعیدن غذاهای باقی‌مانده نیز نیاز داریم.

خوب، در این زمینه بیایید نمونه‌ای واقعی را بررسی کنیم. در ادامه می‌خواهیم دربارهٔ فرد سنگین‌وزنی به نام «روزبه» و مشکل واقعی او صحبت کنیم.

**چرا روزبه عاشق غذا خوردن است؟**

روزبه عاشق خوردن غذا است، به‌ویژه زمانی که احساسات منفی و ناخوشایند به او هجوم می‌آورند. روزهایی که او حال خوشی ندارد، بیشتر از همیشه به خوردن صبحانه تمایل پیدا می‌کند و برای خوب کردن حال خودش، به ناهارهای سنگین و پُروپیمان پناه می‌برد.

البته روز به در ذات وجودش، عاشق خوردن است و غذا خوردن برایش تفریح لذت بخشی است. روزبه با وجود لذتی که از خوردن غذا می‌برد و با اینکه خوردن حالش را از این رو به آن رو می‌کند، اما وزن زیادی دارد. همین موضوع باعث نارضایتی خودش و داکتران از وضعیت جسمانی او شده است.

در واقع، روزبه دچار «پرخوری عصبی» شده است. داکتران برای رفع مشکل او، استفاده از تکنیک‌های تنفسی را پیشنهاد کرده‌اند. این تکنیک‌ها باعث غیرفعال شدن سیستم عصبی سمپاتیک می‌شود. سیستم عصبی سمپاتیک نقش مهمی در تولید احساساتی دارد که باعث بالا رفتن ضربان قلب و در نتیجه، پرخوری عصبی می‌شود.

تکنیک تنفسی به روزبه کمک کرد که بتواند احساسات خود را در مواقع ناخوشایند کنترل کند. به این ترتیب، میزان پرخوری عصبی و احساسی او بسیار کم شد، اما مشکل او به‌طور کامل حل نشد. بالاخره روزبه نزد داکتر رفت که مشکل را به‌طور ریشه‌ای برای او روشن کرد و چارهٔ اساسی مقابله با پرخوری احساسی و عصبی را به او نشان داد. در ادامه با بررسی گفته‌های داکتر، علت بروز پرخوری عصبی و احساسی و راه‌های مقابله با آن را بررسی می کنیم.

**چگونه دچار پرخوری عصبی می‌شویم؟**

داکتر جدید روزبه حرف‌های جالبی زد. او معتقد بود که برای کنترل بیشتر احساساتش بهتر است آنها را به چیزی تشبیه کند. مثال شومینه و قاعده‌های ذهنی غلطی که خودمان می‌سازیم

داکتر روزبه مثال واضحی برای تشریح وضعیت او مطرح کرد. او به روزبه گفت: «وقتی ناراحتی‌های احساسی خودمان را به آتش تشبیه کنیم، اولین ذهنیت‌مان این است که از آتش‌سوزی فرار کنیم و خودمان را نجات دهیم. اما اگر کمی دقیق‌تر به قضیه نگاه کنیم، متوجه می‌شویم که می‌توانیم آتشی در اتاق پذیرایی خود داشته باشیم، اما آن آتش ما را نسوزاند. تا وقتی که این آتش پرحرارت درون شومینه‌ای مطمئن روشن باشد، به‌جای سوزاندن ما، تبدیل به مرکز گرم و امن اتاق می‌شود. آن‌وقت همه تمایل دارند کنارش بنشینند. آدم‌ها دور آن آتش می‌نشینند، خاطرات‌شان را مرور می‌کنند، با یکدیگر حرف می‌زنند و داستان‌های مختلفی برای یکدیگر تعریف می‌کنند.

اما همهٔ این اتفاقات تا زمانی است که آتش راه نفوذی به بیرون از شومینه نداشته باشد. کافی است روزنه‌ای وجود داشته باشد و زبانه‌های آتش شومینه به بیرون پرتاب شود؛ آن‌وقت است که فاجعه پیش می‌آید و شرایط خطرناک می‌شود.

همه می‌ترسند و از دور شومینه پراگنده می‌شوند. این اتفاق ممکن است حتی به سلامتی آدم‌ها آسیب برساند. به همین دلیل، افراد ترجیح می‌دهند که نزدیک شومینه نباشند. حالا اگر باوجود چنین شرایطی، با خودمان بگوییم که مشکلی پیش نخواهد آمد و همه‌چیز خوب است و باز هم به‌طرف شومینه برویم، چه اتفاقی می‌افتد؟ خوب، احتمالاً خیلی زود به‌خاطر سوختگی با زبانه‌های آتش باید به اورژانس مراجعه کنیم».

داکتر روزبه ادامه داد: «حالا تصور کنید همین شرایط برای سلامتی ما هم به‌وجود می‌آید. ما مجبوریم که برای رسیدن به هدف سلامتی، قواعد صحی مشخصی را رعایت کنیم. در این شرایط، همیشه صدایی درون ما وجود دارد که می‌گوید بی‌خیال باشیم؛ همه‌چیز خوب است و با یکبار سرپیچی از قواعد، اتفاقی نمی‌افتد.

اما این تفکر اصلا منطقی نیست.

معمولاً مغز آگاه اجازه نمی‌دهد ما از قواعدی که برای سلامت‌مان اهمیت دارد، سرپیچی کنیم. اما احساس ما در مقابل این قواعد می‌ایستد و دلایلی برای‌مان می‌آورد تا قانون را زیر پا بگذاریم».

پس از این توضیحات، داکتر رو به روزبه کرد و گفت: «فرض کنیم که تو قاعده‌ای برای خوردن بیش از سه وعده صبحانه در برنامه روزانه‌ات ایجاد کرده‌ای. اما آیا این قاعده اصولی و منطقی است؟ چرا چنین قاعده‌ای در ذهن تو ایجاد شده است؟»

روزبه کمی فکر کرد و پاسخ داد: «در چنین شرایطی، افکار مختلفی به ذهن من هجوم می‌آورد، مثلاً به غیرقابل‌تحمل بودن رئیسم فکر می‌کنم و برای مقابله با این احساس، جز خوردن توت‌زمینی، چارهٔ دیگری پیدا نمی‌کنم. یا زمانی که در وسط روز کمی گرسنه می‌شوم، تنها این فکر به ذهنم می‌رسد که باید یک وعدهٔ غذایی دیگر برای خودم آماده کنم.

حتی در زمان‌هایی که تمام روز را زیاد کار کرده‌ام و خسته‌ام، احساس می‌کنم که باید با خوردن یک وعدهٔ غذایی حجیم، حال خودم را خوب کنم تا خستگی‌ام برطرف شود. زمانی که شکست عشقی خوردم و احساس کردم زندگی‌ام بی‌ارزش شده است، حالم را با خوردن کباب خوب می کردم».

**شومینهٔ درون ما!**

داکتر نگاهی به روزبه انداخت و گفت: «خوب، این افکار همان زبانه‌های آتشی هستند که از شومینه به اطراف پراگنده می‌شوند و به ما آسیب می‌رسانند. ما هم باوجود احساسات منفی درون‌مان، این زبانه‌ها را توجیه می‌کنیم و در مجاورشان قرار می‌گیریم.

به خودمان می‌گوییم که «حالا با یک بار خوردن، اتفاقی نمی‌افتد و کمی توت زمینی بیشتر کسی را نکشته است.» اما پس از زمان کوتاهی ناامید می‌شویم و دوباره خودمان را سرزنش می‌کنیم تا با این احساسات مقابله کنیم.

## ډیپلومات: د افغان سولې په تړاو روسیه او امریکا د نظر توافق ته نږدې شوي دي

روسیه او امریکا له کلونو راهیسې په افغانستان کې د رواني جګړې، د سولې د پروسې د څرنګوالي، د امریکایي ځواکونو د حضور او اهدافو او ځینو نورو مسایلو په اړه مخالفتونه لري.

اوس رپوټونه دا دي، چې د نړۍ دا دوه ځواکمن هېوادونه د افغان سولې په تړاو، چې په پایله کې به یې امریکایي ځواکونه په بشپړه توګه له افغانستانه وځي، توافق ته نږدې شوي دي.

ډیپلومات رسنۍ په یوه تازه لیکنه کې ویلي، چې د روسیې، چین او امریکا درې اړخیزو ناستو د مسکو او واشنګټن ترمنځ د افغانستان په اړه د نظر نږدې کېدو کې ډېره مرسته کړې ده.

دغه رسنۍ په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو حضور او اهداف د روسیې او امریکا ترمنځ د اختلاف عمده ټکي بولي.

سرچینه وایي، روسیه وېره لري چې ګني امریکا غواړي مرکزي اسیا ناامنه او دغه راز د دې سیمې او ایران په طبیعي زېرمو خېټه واچوي.

ډیپلومات لیکلي، چې مسکو آن شخصي امنیتي کمپنیو ته د افغانستان د جګړې د سپارل کېدو له نظر سره هم مخالف دی او غواړي، چې امریکایي ځواکونه له افغانستانه په بشپړه توګه ووځي.

امریکا که څه هم له طالبانو سره په روانو خبرو کې په اصولو کې منلې چې خپل ټول ځواکونه به له افغانستانه وباسي، خو د دغه هېواد ولسمشر ډونالډ ټرمپ په دې وروستیو کې یو ځل بیا ټینګار کړی، چې په افغانستان کې به پیاوړی استخباراتي حضور وساتي.

د ټرمپ دا څرګندونې په مسکو کې له منفي غبرګون سره مخ شوې او روسي رسنیو د افغانستان په اړه د ډونالډ ټرمپ په پالیسۍ کې د دوه ګوني چلند رپوټونه خپاره کړل.

په دې لیکنه کې راغلي، که امریکایي ځواکونو د حضور په اړه اختلاف حل نه شي، په افغانستان کې ژر سوله نه شي راتللی.

ډیپلومات د دې ستونزې د حل ښه لار د روسیې او امریکا ترمنځ له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو توافق ګڼي.

سرچینه کاږي، د دغو همکاریو د پایلو لپاره باید د جولای په وروستیو کې په مسکو کې د روسیې، چین او امریکا بلې درې اړخیزه ناستې پایلو ته منتظر پاتې شي.

## سټولټنبرګ: له طالبانو سره د ځواکونو پر وتلو توافق نه کېږي

د ناټو سرمنشي ینس سټولټنبرګ ویلي، چې دوی د زلمی خلیلزاد په مشرۍ د سولې له روانو خبرو ملاتړ کوي، خو دا خبرې د بهرنیو ځواکونو د وتلو پر سر نه دي.

سټولټنبرګ په اسپېن (ASPEN) امنیتي فورم کې د خبرو پرمهال ویلي، چې ناټو سازمان د طالبانو او متحده ایالتونو ترمنځ د سولې خبرو اترو په ټولو پړاوونو کې ښکېل دی او د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد او په کابل کې د ناټو ملکي استازی دوی ته په منظم ډول معلومات ور کوي.

هغه زیاته کړې: «موږ هیله من یو چې سفیر خلیلزاد د سولې په توافق کې بریالی شي. دا د خروج توافق نه دی، بلکې دا د سولې توافق دی. افغانستان باید بېرته د نړیوالو ترهګرو په مرکز او پټنځي بدل نه شي».



د ناټو سرمنشي دغه راز ویلي، چې دوی افغانستان ته له متحده ایالتونو سره یوځل داخل شوي او که د وتلو پرېکړه کېږي، ټول به یوځایي وځي.

سټولټنبرګ دغه راز په ترهګرۍ ضد جګړه او عملیاتو کې د افغان ځواکونو رول تر بهرنیو ځواکونو ګټور بللی دی.

د هغه په خبره: «موږ باید دا واقعیت ومنو چې افغان ځواکونه هغه دنده پرمخ وړي، چې موږ په ۱۴۰ زره پوځیانو پرمخ وړله. له افغانستان، عراق، لیبیا او نورو هېوادونو څخه یوځه ما زده کړي او هغه دا دي، چې د محلي ځواکونو پیاوړي کول د ځواکونو تر لېږلو او سترو عملیاتو، اغېزناک دي».

له طالبانو سره د سولې په خبرو کې د بهرنیو ځواکونو د وتلو په تړاو د ناټو د سرمنشي څرګندونې داسې وخت دي، چې وسله والو طالبانو له افغان حکومت سره د خبرو اترو اساسي شرط د امریکایي ځواکونو د وتلو د مهالوېش اعلانول بللي دي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۸۸ |
| € | ۸۹,۸۰ |
| Rp. | ۵۰۳ |
| ₹ | ۱۱۷۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۹۹,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اپمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




یکشنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ ۳۰مه | د ۲۰۱۹ د جولای ۲۱مه | دریم کال |٤۰۷مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۳٦ | ٤۱ | ٤۲ | ٤٤ | ٤۰ |
| ۲۰ | ۲۸ | ۲٦ | ۳۳ | ۲۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۵ | لمر ختل ۰٤:۵۵ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیګر ۰۳:٤۷ | ماښام ۰۷:۰۵ | ماخوستن ۰۸:٤۵

## نړۍ




## مؤسسه جوانان برای صلح: هشت میلیون جوان در کشور بیکاراند و هر سال ۴۰۰ هزار به آن اضافه می‌شود



مسؤلین مؤسسه جوانان برای صلح می‌گویند که لشکر جنگ در کشور، بیکاری است و اگر دولت و سکتورهای خصوصی برای از بین بردن بیکاری مبارزه نکنند، جنگ به نحوی در کشور ادامه خواهد داشت.

مؤسسه جوانان برای صلح، دیروز چهارمین نشست ملی صلح تحت عنوان «دیدگاه جوانان در قبال قطعنامه مشترک کنفرانس بین‌الافغانی صلح دوحه» را با اشتراک شماری از اشتراک کننده گان این نشست در کابل برگزار کردند. نورشاه کامه‌وال معاون مؤسسه جوانان برای صلح، در نشست دیروز گفت، هدف مؤسسه جوانان حمایت از پروسه صلح از طریق تسهیل پروسه اجماع داخلی، تسهیل مشارکت عامه و سکتور خصوصی برای کاریابی به جوانان، حمایت از خانم‌ها و بازماندگان جنگ، و سهم‌گیری فعال برای مبارزه با فساد اداری و عدالت اجتماعی می‌باشد.

وی افزود که امروز هشت میلیون جوانان در کشور بیکار اند که هر سال ۴۰۰ هزار به آن اضافه می‌شود. موصوف علت اساسی لشکر جنگ را در کشور بیکاری عنوان کرد و گفت که اگر جلو بیکاری در کشور گرفته نشود، جنگ به شکلی از اشکال ادامه خواهد داشت. او با بیان اینکه دولت هم به تنهایی نمی تواند زمینهٔ کار را برای تمام این جوانان فراهم کند، از تمام سکتورهای خصوصی خواست که در این راستا برای از بین بردن بیکاری همکاری نمایند.

شاه‌گل رضایی یک تن از اشتراک کنندگان نشست دوحه در نشست دیروز گفت، دستاوردهای ۱۸ سال، آتش بس، حقوق زنان، حقوق شهروندان و عدالت اجتماعی از نکات مهم بحث نشست دوحه بوده است. وی افزود که امروز جنگ در کشور سبب شده تا از کاروان بشریت عقب بمانیم و هر روز شاهد از دست دادن افراد ملکی در کشور باشیم.

unitar
United Nations Institute for Training and Research

From the People of Japan

# دفتر یونیتار برنامه آموزشی خویش را تحت‌نام «پروگرام رهبری زنان » در کابل برگذار نمود



۱۵ تن متخصصین جوان از طریق این برنامه به ارتباط اهداف متداوم و یا پایدار انکشافی و حکومتداری خوب تحت آموزش قرار گرفتند.

افغانستان کشوری است که در آن فرصت‌های فراوان به جوانان فداکار و متخصص که در سدد خدمت و کمک به کشور خویش هستند، می‌باشد. به خصوص زنان که همچنان واقف هستند که بالاخره حالا وقت آن رسیده تا در حصه اطمینان بخشیدن اینکه ابتکارات انکشافی وظیفه هر عضو از جامعه می‌باشد، سبقت جسته منحیث یک رهبر ظهور می‌نمایند.

برنامه یونیتار تحت نام «پروگرام رهبری زنان برای افغانستان؛ اهداف متداوم انکشافی، ساختمان پلان‌های عملی و حکومتداری خوب» با پیشنهاد افزار و تجارت عملی، اشتراک کننده‌ها را کمک می‌نماید تا سهم فعال در انکشاف کشور شان داشته باشند.

یک تن از اشتراک کننده‌های این برنامه خانم معصومه رسولی که معاون مؤسسه Women Empowerment for New Horizon می‌باشد، از اشتراک خویش به این برنامه برای اینکه چگونه میتواند خود و مؤسسه خود را در سطح کشور برای بدست آوردن اهداف متداوم انکشافی به خصوص هدف پنجم (تساوی جنسیتی و یا جندر ) حمایه نماید، خرسند می‌باشد.

دور دوم این برنامه که دور اول آن سال قبل یعنی در سال ۲۰۱۸ میلادی انجام گردیده بود، با برگذاری ورکشاپ آموزشی در تاریخ‌های ۲۲ و ۲۳ اپریل سال جاری در کابل آغاز گردید. این برنامه توسط دفتر هیروشیمای انستیتوت تحقیقاتی و آموزشی ملل متحد (یونیتار) با همکاری دفتر پروگرام انکشافی ملل متحد (UNDP) توسط کمک و مساعدت مالی مردم و دولت جاپان برگذار گردید.

ورکشاپ اول این برنامه شامل مسائل آموزشی چون حکومتداری خوب و اهداف متداوم انکشافی در محیط افغانی به خصوص از دید جنسیتی بوده است. برعلاوه پرسونل دفتر یونیتار، اساتید و متخصصین دیگر از جمله خانم سلما الکوزی رئیس اداره کمک‌ها در وزارت مالیه، محترم عبدالغنی امین مسؤل برنامه‌ها در دفتر (UNDP) و خانم لیمه خرم رئیس طرح و انکشاف مشارکت عامه و خصوصی در وزارت محترم مالیه مسائل مختلف آموزشی این برنامه را برای اشتراک کننده‌ها با ارائه مثال‌ها و نظریات جامع خویش با در نظر داشت محیط افغانی تقدیم و آنها را تحت آموزش قرار دادند.

اشتراک کننده دیگر خانم طاهره سبحانی رئیس انکشاف تجارت در مؤسسه «ممتاز هوست/یوگا» ارتباط مسائل آموزشی را با امور کاری مؤسسه خویش پر ارزش تلقی نموده فرمودند که انتخاب اساتید جوان، با تجربه، متخصص و کسانیکه به ارتباط موضوعات درسی عملاً در چوکات ادارات دولتی کار می‌کنند و تجارب هنگفتی هم دارند، ویژگی خاص برنامه بوده که در تشویق آنها برای آموزش بیشتر نقطه عطف می‌باشد.

پانزده تن از اشتراک کننده‌ها از ادارات دولتی، سکتور خصوصی، سکتور اکادمیک و جامعه مدنی از طریق ارائه درخواست دقیق و گذراندن پروسه مصاحبه به این برنامه انتخاب گردیدند. اشتراک کننده‌ها با ایجاد ارتباطات سالم و بدست آوردن تجارب از سکتورهای دیگر در برنامه به صورت دقیق قادر به آموزش ایجاد مؤثر تغیر در اجتماع خواهند گردیدند.

خانم سحر ساحل مسؤل جندر وزارت امور زنان همچنان نظر خویش را طوری شریک ساخته فرمودند که اشتراک خانم‌ها از ادارات ، سکتورها و نواحی مختلف باعث ایجاد تجارب عمیق و انگیزه بین اشتراک کننده‌ها در نیرومند ساختن اعتماد به نفس آنها به منظور کار و مجادله برای بدست آوردن حقوق جایز آنها خواهد گردید.

اشتراک کننده‌های برنامه اول که در سال ۲۰۱۸ میلادی برگذار گردیده بود، محتویات پروگرام را مؤثر و بهتر تلقی نموده و اکثریت آنها به ارتباط ابتکارات عملی خویش بعد از ختم برنامه که شامل انگیزه بخشیدن مسائل جنسیتی متوازن بین افراد اداره، ایجاد سیستم ارزیابی و انضباطی برای پرسونل، شناخت ابتکارات و انکشاف پروپوزل‌ها و توسعه تاثیرات مثبت برنامه توسط تدویر برنامه‌های آموزشی به دفتر یونیتار گذارش دادند.

اشتراک کننده‌های دور دوم این برنامه با اشتغال آنها در پست‌های اداری و آموزشی فرصت‌های مساعدی شریک ساختن تجارب و آموزه‌های خویش با همکاران و شاگردان خویش که باعث توسعه تاثیرات مثبت برنامه خواهد گردید، دارا می‌باشند. از اینکه تعداد خانم‌های که از برنامه‌های «رهبری زنان» فارغ میگردند در حال افزایش می‌باشد. دفتر یونیتار امیدوار است تا شاهد به وجود آمدن تاثیرات مثبت در کارها و خدمات بهتر اشتراک کننده‌ها در جامعه افغانی باشد.